سید احمدشاه انګار ۲۰۱۳/۰۵/۰۷

# د ګاونډیو هیوادونو سره زموږ ستونزي

دا یو مسلم حقیقت دي چي زموږ د هیواد په داخلي چارو کی همیشه زموږ ګاونډیو هیوادونو مداخله کړیده او د ملګرو ملتونو په منشورکښی راغلی دی چي هیوادونه یی یو د بل هیواد په داخلي چارو کي منع کړي دي. زموږ ګاونډیو هیوادونو دغه منشور همیشه نقص کړي دي. خو موږ ته سوال پیدا کیږي چي ولي همیشه زموږ ګاونډیان هیوادونه زموږ سره په دښمني کي قرار لري. او زموږ د هر نظام په وړاندی دوي یوازي د ناوړي مداخلي لاره غوره کړیده. او موږ ډیر وخت دغه ستونزي د سرحدي پولو پر سر رامنځته سوي دي. د سړي جګړي د ختم سره سم په نړیواله سطحه یوه نوي موضوع منطقه ګرایی (Regionalism) رامنځته سوې ده او ډیری هیوادونو د همدي موخو د تر لاسه کولو لپاره هڅي پیل کړی.

اوس مهال ډیر هیوادونه دې موخي ته رسیدلي دی چي مثال یی موږ د اروپا اتحادیه یادولای سو. چي دا مهال په اروپا کي د سرحدونو ستونزي هیڅ وجود نه لري او اروپایي هیوادونه ددې پر ځاي چي پخپل منځو کي د غه سرحدي ناندري ووهي، پر نورو مهمو مسایلو باندي کار کوي. او هغه کارونه چي یو هیواد یي په یوازي ډول نسی تر سره کولای په ټولیز ډول د هغه ستونزو د حل لپاره اقدامات تر سره کوي. چي حتي په اقتصادي ډګر کي اوس دوي یو پولي واحد لري او یو ګډ پارلمان لري چي په ګډه سره نړیوالي مسلي چي د دوي لپاره ګټوري تماميږي کار کوي. او دا هیوادونه کوښښ کوي چي خپلو خلکوته اسانتیاوي رامنځته کړي. خو هغه ورسته پاته هیوادونه یا (Third World Countries)همیشه په خپلو منځو کي پر ډیرو کوچنیو مسایلوباندي ناندري وهي او همیشه یي تر منځ پر سرحد ستونزه وي، چي موږ هم یو د هغه هیوادونو څخه یو. چي همیشه د خپلو ګاونډیانو سره په سرحدي شخړه اخته یو.

دغه موخو ته درسیدو لپاره هیوادونه همیشه یوه فعاله ډیپلوماسي په لاره اچوي او دا موخي یوازي د یوي فعالي ډیپلوماتیکي دستګاه په درلودلو سره تر لاسه کیږي. را به سو زموږ د هیواد ستونزي ته، موږ په پخپل هیواد نه یوه سالمه ټولنه نه لرو، نه سالمه دولتي اداره لرو او نه هم سالم او رشتیني رهبران چي موږ یو سم لور ته رهبري کړي. او همیشه خپل د ستونزو لامل بهرنیان او ګاونډیان بولو، ددې پر ځاي چي خپلي داخلي ستونزي حل کړو. که موږ خپلي داخلي ستونزي حل نکړو، موږ څنګه کولای سو بهرني ستونزی حل کړو، ځکه د داخلی ستونزو څخه بهرني ستونزي هم پیدا کیږي. یو کال مخکي په یوه جرمني بنیاد کي د یو جرمني ژورنالیست چي فرنک نومیده ناست وم او پوښتنه مي ځیني وکړل، تاسي په لږ وخت کي څنګه و کولای سوای، د دوهمي نړیوالي جګړي وروسته دومره ژر پرمختګ وکړی او د نړی یو اقتصادي قدرت جوړ سي، نوموړي ماته یوه ډیره جالبه خبره وکړل، هغه دا چي موږ جرمنانو همیشه د خپلی بربادي لامل فرانسه بلل، لکه موږ چي د خپلي بربادي او ستونزو لامل پاکستان او ایران بولو، خو وروسته دا راته معلومه سوه چي موږ په خپل داخل کښی ډیری ستونزی لرو، او موږ ګاونډیان و دي ته اړ کوو چي زموږ په داخلی چارو کي مداخله وکړي، نوموړي زیاته کړه، هغه وخت چي موږ خپل مسؤلیت و پیژانده او خپل ملامتیا مو پیدا کړل. زموږ ستونزي حل سوي او اوس موږ د فرانسي سره هیڅ ډول ستونزه نه لرو، حتی یو ستراتژیک ملګري مو دي. ځکه موږ یو فعاله ډیپلوماتیکه دستګا فعاله کړه او فرانسه مو قانع کړي چي زموږ موخي ګډي دي، او د هغه وروسته همدا فرانسه او جرمني وه چي د اروپا اتحادیه یی رامنځ ته کړل او هغه اتحادیی د ساتلو لپاره په ګډه کار کوي.

هر کله چي یو هیواد کمزوري وي نو د هغه هیواد لپاره که غواړي چي پرمختګ وکړي یوازني اله فعاله ډیپلوماسي ده، رابه سو دې ته چي اول زموږ دولت او بیا زموږ ډیپلوماتیکه دستګاه د کوم ډول اشخاصو څخه جوړه ده، زموږ دولت لوړ پوړي چارواکي ډیري د نورو هیوادونو په حمایت ټاکل کیږي او دهغوی د ګټو لپاره کار کوي، او یا هم زور واکان دي چي یوازي د خپلي بقا لپاره کار کوي. زموږ ډیپلوماتان د همدې زورواکانو زامن یا دوستان دي، او ډیپلوماتیکه دستګاه مو هم د همدي ډول خلکو څخه جوړه سوي ده. اما نور هیوادونه خپله ډیپلوماتیکه دستګاه په هیواد


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کي د ممتاز ترينه اشخاصو چي په مسلکي او فنی ډول د سياست او ډيپلوماسي په څانګه کي روزل سوي وي ګمارل کيږي. خو زموږ دا سرچپه کار دي هغه څوک چی وړتيا لري، هغوي ته کار نه پيدا کيږي او هغو نور ياد خلک په کارونو ګمارل کيږي. نو دا ډول دستګاه به څنګه زموږ بهرنی ستونزي حل کړي آو زموږ د ګټو دفاع به وکړي. که موږ و توانيږو يو فعاله ډيپلوماسي په لاره واچوو. کولای سو په اساني سره خپلي ستونزي د خپلو ګاونډيانو سره حل کړو. زموږ په هيواد کي يوازني ستونزه دا ده چي موږ خپل مسؤليت نه پيژنو، زموږ ولس بايد خپل مسؤليتونه و پيژني، او په انتخاباتو کی ګډون وکړي. او سم سالم خلګ و ټاکي، څکه دولت د خلکو څخه جوړيږي.

موږ بايد يو فعاله ډيپلوماتيکه دستګاه ولرو تر څو وکولای سی د منطقه ګيراي د اهدافو د تر لاسه کولو لپاره په ګډه کار وکړی، څکه موږ د خپلو ګاونډيانو سره فرهنګي، اقتصادي، سياسی او نظامي مشترکي ګټي لرو، که موږ و توانيږو خپل ګاونډيان قانع کړو دا ستونزه ډير ژر حل کيږي. څکه په نړيوال سياست کي منطقه ګيرايي د يووالي يوه قوي نيرو ده. پدې هيله چي موږ به په اينده کي يو قوي او فعال دولت و لرو . خو که خلګ و غواړي.

به درنښت

سيد احمدشان انګار
ازاد خبريال


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ